محمد نقیب تره خیل ۲۰۱۶/۰۵/۱۲

د هېواد اسلامي سیاستوال، منافقین او دوزخیان دی

لومړی د دین او سیاست توپیرونه:

دین د خدای ج حکم دی او سیاست د نفس. دین د مکان زمان او حالاتو تابع نده خو سیاست دی. دیندار د خپلو ژمنو ضامن دی لیکن سیاستوال ندی. دین فضیلیت دي خو سیاست لذت دی. دینداري په عقیده او عمل کېږي لیکن سیاست په مالي او پوځي طاقت. دین د شخص د انجام شوو اعمالو په نتیجه قضاوت کوی خو سیاست د کس په اقتصادي توانمندي. د دین د ملا تیر اخلاق دي لیکن د سیاست د ملا تیر اقتصاد. دین پوازي په شریعت کېږي خو سیاست په تعصبو (په قوم ژبه هېواد پالنه، په دین پالنه او دین غندنه)دین زعامته عالم او فاضل کس غوره ګني خو سیاست ورته ثروتمند او قدرتمند. دین د متعرضو تر مینځ برابر ویش او رضایت حق ګني لیکن سیاست د زورورو لذت، منفعت او خوښه حق بولی. د دین حکمونه دائمي خو د سیاست مؤقتي دي، دیندار احکام ړومبي پر ځان عملي کوی بیا په بل لیکن سیاستوال احکام په بل عملي کوی پر ځان نه. دین انسان ته د تقوا او پرهېز ګاري له مخې ارزښت ورکوی خو سیاست ورته د چالاکۍ او دوکه بازۍ په اعمالو، دغه کړنې د خداي او رسول نافرماني او د شیطان اطاعت دی.

جرمني عالم شوپنهاور وایی: سیاسیون په درواغو د ملت او د هیواد د خدمت کولو چیغی وهي. بلکي هغوی د نور دشمنیو او مقام د نیولو لپاره نفسي جګړه کوی. د هغه په اند په نړۍ کې لوي شر ځان غوښتنه ده. سیاست د ځان غوښتني تومنه ده.

د منافقت او دوزخي توب احکام:

رسول الله ص فرمائیلی دروغ ویونکي، عهد ماتونکي او خیانت کونکي منافقان دي. اسلامي سیاسیون ټول دروغ ویونکی، عهد ماتونکي او خیانت کونکي وختل. دروغجن په دي چې جهاد یی د الله ج د رضا لپاره کړی وه.خو اجوره یی له ملت نه واخسته او لایی اخلي. که سیاف، ربانی، اسمعیل خان، عطا نور، مجددی، ګیلانی، دوست محمد (د مسعود پلار) ډبل عبدالله، محقق، خلیلی، او هر بل سیاستوال خپل منقول او غیري منقول مال ان پر لمسیانو وویشي هر لمسي ته به د خپل د نیکه په پرتله زر برابره زیاته شتمني په برخه ورسیږي.دوی که دین عنوان کړی نه وه ملت ورپسې نه درېده که ملت ورسره نه وه ولاړ د مسکو غلیمانو وسلې او پیسې نه ورکولي، نو همدا دین د دوی د ثروتمندۍ او قدرتمندۍ وسیله شوه او د کمونستانو د تیوریسن مارکس هغه تور یی ریښتیا کړ چې دین یی تولیدی شبکه نومولی وه. په دي هکله د پیغمبر ص حکم دي. «څوک چې د بل بنه یا اقوال عملی کوی د هغو له ډلي ګڼل کیږي.»

د منافقت دوهمه نښه عهد ماتول دی، دوي و عده کړي وه چې اسلامي نظام جوړه ؤ او د اسلا مي نظام د زعامت لپاره علم، عمل، تقوا او پرهېزګاري شرط دی.خو دوي تعصبیت شرط وګنه. د غلبې له پیله یی په ژبني، قومي او مذهبي تعصب د نظام ستني درولی، ان څه حکومتو نه یی قومي او خانداني ول او دوي، که د اسلامي سیاسیونو کورنۍ د نظام ستنه وي حکومت اسلامي دي کنه کفري دي. ثبوت یی له ۱۳۷۲یم کال راهېسې پرله پسې کورنۍ او بهرنۍ جګړې دي.

ځان او قوم پالنه، تعصب دي او تعصب د ابلیس کړنه ده. د تعصب په اړوند نبي اکرم ص فرمایی هر څوک چې په تعصب کې ومري هغه زما له امته ندی. عبدالعلي مزاري، مسعود، رباني، داؤد داؤد قوماندان، پناه او نور ډېر سیاسیون په تعصب کې مړه شوی.

عبدالعلی مزاري هزاره ورونه په دي تعصب جنګ ته هڅول چې یوه ورځ جنګ کوی او که ټول عمر جوالیتوب. مسعود او رباني د تاجکانو د تعصب پاروني لپاره ویل پښتانه غاصب قوم دی. دوي له هند نه راغلي زموږ هېواد یی دا ۲۶۰ کاله لاندی کړی. خراسان زموږ د هېواد نوم وه په افغانستان یی اړولی. او نورو لږه کیو ته یی په تعنه ویل، پښتنو دا دوه نیمي پېړۍ موږ د ځان غلامان کړی یو.پاڅېږي همدا اوس یی وخت دی، پردیو هم وسلې راکړي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او هم مو ملاتړ کوي چې پښتنو نه قصد واخلو. د پټې توطيو او بربنډه څېرو کتاب کې راغلي؛ «رباني استاد فريد ته وايي په تاريخ کې محرومو قومونو ته ډېر لږ چانس په لاس ورځي، خدای دا چانس نن موږ ته په لاس راکړی. زه رئيس جمهور ته صدراعظم او مسعود د دفاع وزير دری واړه تاجکان يو د حکومت او دولت ټول واک له موږ سره دی، د حزب مه منه د پښتنو واک بايد شنډ کړو.» د عصمت قانع له قوله رباني سخي داد فايض نه وغوښتل: «قانع راوګرځوه هغه ښه با استعداده هلک ده خو عيب يې دا چې پښتون دی.» سياف نيغ تعصب ندی کړی خو دا ۲۲ کاله د متعصبو په ملاتړ جنګېدلي او جنګيږي. ځينی کرزيانو، ګل آغا شېزوی او په ننګرهار کې د دين محمد کورنۍ هم د سياف په پله تللی.د نظر محمد مطمئن په نامه طالب سياستوال په يوه مقاله کې د خپل د ملګري د ملا عباس ستانکزی تعصب په ډېر شد و مد په رسنيو کې خپور کړ، ته به وائی چې د خدای ج حکم عملی کړی هغه ليکلی وه: «د قطر په غونډه کې د اشرف غني اکا له طالبانو وغوښتل چې د امنيتي افرادو پر ځای پر سياف ځانمرګې بريد وکړی چې هغه تاسو خوارج نوموی. ملا عباس ځواب ورکړ هغه مجاهد دی.موږ او هغوی په ګډه د روسانو په ضد جهاد کړی. مونږ سيکولران، چپيان او له غرب نه را استول شوی کسان قتلوو» ملا صاحبانو الله ج ان انبياوو ته د انسان د قتل جواز نه دی ورکړی.پاتې شه لا عوام خلک.طالب جان به د جهاد په نوم بل به د حاجيانو او هغه بل به د لمونځ ګذارانو په نامه تعصبي خواړی کوی او هر تعصبګر به د خپل متعصب ملګري جرمونه ښې ټول غير متعصب ملت به اشد مجرمان وی لکه چې دا اوس ده. خو داسی نده، دين د انسانانو وصل کونکی دی نه فصل کونکی.دين مسلمان ته د فرائضو په ادأ کولو د باج اخستو او د ډلګيو جوړولو اجازه نه ورکوي، دين مجرم ته د جرم مطابق د شريعت په حکم سزا تعين کړي. اسلامي سياسيون عجيبه خلک دي اسلام منی ليکن د اسلام احکام نه منی، د حديث په حکم دوي د رسول الله ص له امت نه وتلی کسان دی.

نوموړو له ملت سره دا عهد هم کړی وه چې عدالت به کوو، سوله به راولو او کنډواله شوی هېواد به آباده ؤ.خو دوی د ژمنو خلاف عمل وکړ د عدالت راوستو پر ځاي يی په خپله دوي دومره ظلمونه وکړل چې طالب وزېږېد، سوله داسي تری تم شوه چې امريکا او انګليس له نورو ۴۲ هېوادو سره ۱۶۰زره عسکر د امن راوستو په نامه ورولېږل.

هو، د سياسيونو پنجري او کنډوالی بلډنګونه شول خو د ملت په کنډوالو نوري ورزياتی شويدی.

د عهد ماتونکو د سزا په اړوند ابن عمر رض وايی: «چې نبي اکرم ص وفرمائل د قيامت په ورځ به يوه لويه نښه ودرول شي او ذکر به وسی چې دا د فلان بن فلان د ژمني د ماتېدو نښه ده» بخاری-مسلم.د حضرت انس نه روايت دی: چې محمد ص فرمائلي د قيامت په ورځ به د هر عهد ماتونکي يوه خاصه نښه وي چې د هغې په ذريعه وپېژندل سي.

د منافق دريمه نښه خيانت دی:

يزيد بن خالد نه روايت دی: رسول الله ص د خيبر په غزا کې د يو اصحابي جنازه ځکه ونکړه چې په کڅوړه کې يی د دوه درهمو نه په کمه بيه د يهودو د مېرمنو غاړه کی موندل شوی وه، يا رسول الله دوي خو د مسلمانانو مال تالا کړ ان مېنې يی ور ونړولې تيران او دستک يی تری يوړل.د دوی له جنازو خو به دې خامخا مخ ګرځو لی وه. ابن عباس وايی عمر بن خطاب موږ ته دا بيان وکړ د خيبر غزا چې ختمه شوه يو اصحابي راغی، وې ويل دا د فلانی سړی شهيد دی. نبي ص وفرمائيل هيڅ کله نه، په کومه مانا چې تاسو ده ته شهيد وايی سهی نده. ځکه دې سړی د غنيمت د مال نه يو څادر يا يی وفرمائيل يو برګه کمپله غلا کړی وه د هغه په وجه په هماغه کې تاو شوی د سوزېدو په حالت کې ما په دوزخ کې وليد. بيا رسول اکرم ص ماته حکم وکړ ابن خطاب دا اعلان وکړه چې جنت ته به په ابتدا کې صرف مؤمن داخليږی مُسلم. سياسيونو نالیچې بستري، قالیني، څوکی، مېزونه، يخچالونه او ديګی هر څه غلاه کړی انشاء الله سوځېدا به يی له هغه نه لايتناهي زياته وی.

له حضرت ابوهريره نه روايت دی چې رسول الله ص فرمائيلي که څوک د چا يوه لويشت ځمکه هم غصب کړی د قيامت په ورځ به هغه تر ۷مې طبقې وکيندل شي غاړه کی به تري جوړه سي بيا به دهغه د غاړې هارشي که چا اوښ، غوايی، وری او چرګه غلا کړی وی له هغه به هم غاړه کې جوړيږي او د قيامت په ورځ به يی هار کيږي.له ما به د شفاعت غوښتنه کوی زه به ورته وايم ما خو تاسو خبر کړي وې. اسلامی سياسيونو په زرهاوو جريبه ځمکې په پادو او رمو څاروي غلا کړي په هغه ورځ به يی څومره ډېر هارونه په غاړه وي او ښکلي به ښکاري؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اُجره تی جهاد په باره کې له حضرت ابو ایوب نه داسی روایت دی: نبي ع موږ ته وفرمایل په دې نژدې وختو کې به لوی لوی ښارونه فتح شی او د لښکرو به جدا جدا جنډې وی او په هغو کې به د ستاسو لپاره پوځ معین کړی شی. ځني کسان به د حاکم په اَمر بلا عوضه جهاد نه خوښوی، بلې سیمی ته به تښتي هلته به غوښتنه کوی که څوک ماته اجوره راکوی زه د هغه په لښکر کې جهاد کوم.یانې کس ته د الله ج د خوښي پر ځای مادیت ګټل مهم وي، خبر اوسی هغه سړی به د خپلې وینې تر وروستی څاڅکي پوري مذدور وی، دا کس به مجاهد یا غازی نه، بلکی کرایی مذدور به وی چې د نورو لخوا د جنګ په ډګر کې جنګیږي تر دی چې ووژل شی.(ابو داؤد).
اسلامي سیاستوال لکه د منډوي دلالان چې د متاع د بیی د لوړوالی لپار چني وهي او په درواغو وایی په دومره بیه یی را نه غوښته ورمې نکړ، سیاسیونو به هم د جنګي مزد د لوړی بیی لپاره چنې وهلی او ویل به یی فلانی دومره روپې راکولی ورسره کرایه نشوم. دوی ته د خدای له اجر نه د مادیاتو ګټل مهم وه. د حضرت عباس نه دا الفاظ نقل شوی چې: نبي کریم ص فرمائیلی:د کوم سړی غوښه چې د حرام مال نه پیداشوی وی یانی جسمانی ودهَ یی د حرام مال نه لکه سُود رشوت اونورو نه شوی وی هغه د دوزخ لائق دی. دینی سیاسیونو د ۳۸ کلن جنګ راهیسې د توپک په شپیلۍ حرام ځښلي حرام یی خوړلی او حرام یی اغوستي.
دینی زعیم ته د ملت د ساتونکی دنده ورسپاري نه د ملت د داړونکي، حضرت ابوهریره نه روایت دی: نیمه شپه وه د کور ور وتکېده چې ور مې پرانیست حضرت عمر ولاړ وه.ما وویل: خلیفه خیریت دی په دي نیمه شپه کې یوازې راغلی یی، وویل: «ویښ وم، د خلکو شور می تر غوږ شو بهر مې ولیدل چې مسافرو هلته پورته واړول، په بل چا مې جرائت ونشوای کړای نو ځکه ته مې راویښ کړي چې په ګډه پیره پرې وکړو، څوک یی آزار نکړي.» بیا موږ هلته ورغلو د سهار لمونځ چې روا شو ویښ مو کړل ترې راغلو.رباني چې په کابل او حکمتیار په چهار اسیاب کې میشت وه د دوی په سل متری کې د دوی کرایی جنګیالیو د خلکو سر مال او عزت لوټاوه.
پورتنیو احادیثو واضع کړي چې، د اسلامي سیاسیونو اعمال د دوزخیانو او منافقانو دی.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ